د لوړو زده کړو وزارت

کابل پوهنتون

د ژبو او ادبیاتو پوهنځی

پښتو څانګه

# د پښتو ژبې تاریخي تحول

Ketabton.com

لیکوالان : پوهنمل باییزید اڅک او پوهنیار محمد انور خیري

کال 1391

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

**سریزه**..........................................................................1
**دپښتنواصل اونسب** ..........................................................................1
الف – پخوانۍ نظریې..........................................................................1
ب – ورستنۍ نظریې..........................................................................1
a - مرکزی آریایان ..........................................................................1
b - لویدیز آریایان ..........................................................................1
c - ختیز آریایان ..........................................................................1
**په آریایي ژبو کې د پښتو ژبې موقیعت**..........................................................................1
**1– هنـــدې ډلـــه (آریایي ژبې)**..........................................................................1
الف – پخوانۍ دوره..........................................................................1
ب –منځنۍ دوره..........................................................................1
ج – اوسنۍ دوره..........................................................................1
**2– آریاني ډلـه (آریاني ژبې)**..........................................................................1
الف – پخوانۍ دوره..........................................................................1
ب –منځنۍ دوره..........................................................................1
ج – اوسنۍ دوره..........................................................................1

**د پښتو لیک دود تاریخچه**..........................................................................1

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دپښتوژبې تاريخی تحول

# سريزه

" پښتو" د آريايي ژبو د کورنۍ ډېره زړه، لرغونې او تاريخي غړې ده چې د آريايي ژبو د هندي او آرياني گروپ په منځ کې اوسدله او د دې دوو ډلو آريايي ژبو تر منځ يې د اتصال د کړۍ دنده ترسره کړې ده .

پښتو ژبه له دې دواړو ډلو ژبو سره مشترکات لري او له دواړو خواوو سره د ژبنۍ راکړې ورکړې اغېز په کې مومو. د بېلگې په توگه د پښتو ژبې په خاصو غږونو کې : "ټ ،ډ، ړ ، ڼ" چې ژبپوهان يې د مغزي غږونو په نامه يادوي د آرياني ژبو له هندي گروپ سره شريک او د : "ځ ،څ ،ږ ،ښ" غږونه يې بيا له آرياني مرکزي ژبو سره شريک دي.

د پښتو ژبې د لرغونتوب او جوړښت په باب ختيز پوهانو او کورنيو پوهانو ژورې علمي څېړنې کړې، په دې کې داسې کسان هم شته چې پښتو د ژبو مور بولي او له ډېرو پخوانيو ژبو څخه يې گڼي، ځينې پوهان د آريک ورکه ژبه ورته وايي، د ځينو پوهانو له نظره پښتو له اوستا سره د يوې کورنۍ ژبه ده، ځينې پوهان تخاري ژبه چې د کوشاني دورې ډېرليکونه يې په لاس کې دي د اوسنۍ پښتو لرغونی شکل بولي او ځينې بيا همدا تخاري د پښتو او پاميري ژبو له منځنيو اسلافو څخه گڼي.

موږ د خپل بحث لپاره اړ يو وڅېړو چې پښتو د ويلو په ژبه سربېره د "ليک" ژبه کله شوه او لومړنۍ ليکنې يې په کوم ليکدود وې؟ د ځينو ليکونکو گروهه دا ده چې پښتو پښتونخوا ته د اسلام د مقدس دين تر راتگ وړاندې يوازې د ويلو ژبه وه او ليک يې نه درلود. خو له بلې خوا، نه انکارکيدونکي اسناد په واک کې دي چې څرگندوي پښتو زموږ هيواد ته د اسلام دين تر راتلو ډېره وړاندې ليکل شوې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیک په غېږه کې زېرمه شوې ده، د دې خبرې د سپیناوي لپاره چې پښتو تر اسلام وړاندې هم د لیک ژبه وه دا لاندې مطالب وړاندې کوو.

تر میلاد دوه پېړۍ د مخه د باختر یوناني سلطنت په دوو برخو ووېشل شو چې له هغو څخه "مناندر" یوناني سالار د هند ډېرې سیمې ونیولې او دی د هند په تاریخ کې د "مالنده" پاچا وبلل شو او بودایي دین یې هم ومانه، له نامتو بودایي فیلسوف "ناکسینه" سره د ده مرکه د "مالنده پنهو" په نامه یادېږي او دغه کتاب په اصل کې په پخوانۍ پښتو لیکل شوی ؤ چې پښتو نسخه یې په لاس کې نشته خو په "پالي" ژبه کې یې ژباړه په "سیلون" ، "برما" او "سیام" کې وه او یوه زړه پالي نسخه یې چې په څلورمه میلادي پړۍ کې کښله شوې د جاپان په یوه بودایي معبد کې پیدا شوې ده، د مالنده د پوښتنو دوه چیني کتابونه هم شته چې د پنځمې او اوومې میلادي پېړۍ تر منځ کتابت شوې دي.

خو دا نه ده څرګنده چې دا نسخې به د "مالنده پنهو" له پالي ژبې څخه ژباړل شوې وي او که تر پالي له یوې زړې ژبې څخه؟ خو زیات احتمال شته چې دغه ترجمې دې له یوې بلې نسخې شوې وي چې تر پالي نسخې وړاندې وي، د مناندر د ژوند او واکمنۍ دوره له میلاد نه د مخه د دوهیمې پېړۍ په نیمایي کې اټکل کېږي او موږ د دې شمېر له مخې او د دې روایت په اساس د "مالنده پنهو" د پښتو متن د لیکلو وخت له میلاد نه مخکې د ۱۵۰ کلونو شاوخوا ټاکلی شو. د دې سند له مخې چې د کشمیري مؤرخ "کلهڼه" په "راجه ترنګیني" نومي اثر کې راغلی چې پښتو له نن نه دوه زره یو سل او څو کاله وړاندې د لیک ژبه وه او دوخت مهم کتابونه پرې لیکل کېدل.

تر ټولو زړه لیکنه چې د تحریري پښتو څرک راکوي د ایران د بیستون د غره ډبرلیک دی چې د لوی داریوش له خوا له نن نه دوه نیم زره کاله وړاندې کښل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی او په شپږم ستون کې یې یوه پښتو اخلاقي حماسه راغلې او دا ډبرلیک په میخي خط کښل شوی او متن یې دی:

نی اړیکه وم

نی دروجنه وم

نی زور کړه وم

یعنې : نه د چا مانع او لارې خنډ وم، نه یې دروجن او غولوونکی وم او نه مې په چا زور کاوه!

همدا راز له نن نه دوه نیم زره کاله وړاندې په لرغوني افغانستان کې د هخامنشیانو د کورنۍ په ختیزو برخو کې خروشطي لیک رامنځته شو او تر میلاد درې پېړۍ وړاندې په ټوله آریانا کې خور شو چې بیا تر پنځمې میلادي پېړۍ پورې په ټوله اریانا کې دود ؤ او د آریانا بېلابېلې ژبې پرې لیکل کېدلې.

د دې لیکدود د زېږېدلو او مړینې سیمه د آریانا خاوره ده او یو مستقل آریایي لیکدود دی؛ د هیواد په بېلابېلو برخو کې په دغه خروشطي لیک کښل شوې سیکې، لوښي او ډبرلیکونه پیدا شوې دي په دې ټولو لیکنو کې تر اوسه داسې بشپړ متن لا نه دی ښودل شوی چې محققینو دې د پښتو ژبې بللی وي خو ثرنګه چې د آریانا د بېلابېلو ژبو لیکدود ؤ او پښتو هم زړه آریانې ژبه ده نو ځکه به په دې لیکنو کې د پښتو عناصر هم زېرمه شوې وي او له همدې کبله د خروشطي الف بې په باب انګریز محقق "سرویلیام جونز" وایي چې د خروشطي لیک ژبه د آریانا ژبه وه او که چېرته په پښتو کې پوره څېړنې وشي نو ښایي چې یو وخت د دغې ژبې په مرسته ډېرې خروشطي کتیبې او کښنې ولوستل شي؛ همدا راز د خروشطي یا کهروشتي کلیمه د حرف او لیکنې په معنی ده او په پښتو کې همدا اوس هم کرښه د ستر او خط په

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنی ژوندی کلیمه ده نو کیدای شي په بېلا بېلو خروشطي کښنو کې د پښتو زیات عناصر ومومو.

پر آریانا باندې د مقدوني سکندر تر تیري وروسته د یونانیانو د نفوذ د ټینګیدلو په اثر یوناني الف ب ورو ورو دود شوه تر دې چې د آریانا کورنۍ ژبې هم په دې لیکدود ولیکل شوې، له همدې لامله په یوناني ژبو او سیکو او ډبرلیکونو سربېره داسې ډبرلیکونه هم په لاس کې دي چې ژبه یې کوشاني یا تخاري ده خو لیکدود یې یوناني دی او د دې لپاره چې دا ژبه د یوناني لیک په غبرګه کې ځای کړای شي، پر یوناني لیک د ژبې د اصلي غږونو توري هم ورزیات شوې دي.

د سره کوتل په مشهور ډبرلیک کې چې ژبه یې تخاري ده د یوناني په څلوریشت تورو سربېره یو بل توری چې د "ښ" د غږ ښکارندویي کوي هم ورزیات شوی او د "اروانباد" اوسنۍ کلیمه د "الوښال" په بڼه په کې کښل شوې ده، د یوناني لیک په وروستنیو لیکنو کې یې د "غ" ځ، څ" لپاره هم ځانګړي توري پرې ورزیات کړې دي لکه په شاه ځوی او نورو کې.

اوس له سره کوتل نه د پنځلس کیلومترو په واټن په رباطک کې هم یو ډبرلیک موندل شوی چې د سره کوتل تر ډبرلیک دېرش کاله مشر او په همغه یونانو باختري لیکدود دی، پر دې ډبرلیک هم څېړنې روانې دي او باور دی چې د پښتو ډېرې ژبدودي نښې او کلیمې ترې ترلاسه شي.

کوم ډبرلیکونه چې په تخاري، یوناني ډبرلیک راپاتې دي د پښتو لغتونو او ګرامري ځانګړنو ونډه په کې زیاته ده. همدا سبب دی چې زیات محققین تخاري، باختري یا کوشاني ژبه زړه پښتو او یا د پښتو او پامیري ژبو منځنۍ مور بولي .نو ځکه زړور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلی شو چې پښتو تر اسلامي دورې وړاندې په تخاري یوناني لیکدود هم کښله شوې او زېرمه شوې ده.

په دې توګه افغانستان ته د اسلام د سپېڅلي دین له راتګ او ورسره د عربي لیکدود له راتګ سره پښتو هم ورو ورو عربي لیکدود ته ور اوښتې ده. د سره ورته غږونو توري یې کټ مټ ترې راخیستي او د پاتې غږونو توري یې د عربي د ورته تورو په تقلید جوړ شوې دي چې په دې دوره کې یې هم سیر روښانه او هم تاریخ روښانه او په رڼا کې دی.

نور قافلې دې بې خطره درومي

مونږه په لاره مشالون کېښول.

پښتوژبه د پښتنو د نامه سره ټینګه اړیکه لري پښتو ژبه دپښتنو ژبه ده ، هغه څوک چې په دې ژبه خبري کوي او دهغه مور او پلار چې په پښتو سره پوهول اورا پوهول کوي هغه پښتانه دي او پښتو دپښتنو ژبه ده . داچې موضوع د پښتو ژبې تاریخی تحول دی نولازمه بریښي چې لومړی دآریایانو او په ځانګړې توګه د پښتنو په اړه لنډ بحث ولرو.

**د پښتنو اصل او نسب :**

دا څرګنده ده چې پښتانه اریائیان دې ، لا تر اوسه ارین پوهان د اریائیانو د لومړني وطن په اړه یوه خوله نه دي .د اریائي قومونو د مسقط الراس په توګه دري لرغوني سیمي یادي شوي دي ، د اورال او کسپین بحیرو چاپیره سیمې ؛ د زرافشان او تیانشان درې او د امو سیند شمال ختیځي ښیرازي سیمي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر ترتیب ، څه وخت چې د نوموړو قومونو شمیر زیات او د میشت نویو ځایو بو ته اړتیا پیدا شوه ، بیا یې په بیلا بیلو زمانو کې ډله یزې لیږدیدنې وکړې چې ددې ډله ایز لیږد د پیل تاریخ د 3000 څخه تر 2500 کاله پخواتر میلاد کلونه ټاکل شوي دی.

د اریائیانو په اړه تر ټولو باوري منبع هغه تاریخي ویناوي اوسندرې دي چې ټولګه یې د ویدا په نوم یادیږي او دا د افغانستان تر ټولو لرغونی تمدن هم دی چې مورخین یې د ویدي تمدن په نوم یادوي اولرغونتوب یې څه ناڅه 1800 کاله پخواتر میلاد کالونه په ترڅ کې بریښی ، دا هغه وخت وو چې اریائیان د امو سیند سهیلي څنډو ته رسیدلې او دبلخ په لرغوني ښار کې یې د ښیرازه تمدن بنسټ ایښی او هغه تمدن ته یې د ودې او پراختیا لورې پرانیستی وو.

په دې ترتیب پخواتر دې چې اریائي قومونه په بلخ کې د یوه پر مختللي مدنیت بنسټ کښیږدي ، د هندوکش په شمال او د امو سیند په سهیل کې یې د مدنیت وړاندې کلتوري مرحلو بیلا بیل پړاونه تیر کړي دي.

د ویدا په څلورو برخو ( ریګویدا ؛ اتهرو ویدا ؛ ویجورو ویدا ؛ او ساما ویدا ) کې د اریائي قومونو د ژوند په اړه هر اړخیز معلومات شته چې د تاریخي څیړنو لپاره ارزښتمن مواد دي او هغه څه چې د ریګویدا په متن کې ډیر یاده شوې ده هغه دپکهت نوم دی .

ژبپوهان د پکهت نوم د پښتون د نوم پخوانۍ شکل ګڼي په دې اړه د رګویدا په وینو (سرودونو ) کې د پکهت د نوم یاد شوی دی.

د((ریګویدا))لرغونې سندرې چې دلسوقبیلوجګړې ته نغوته کوي ، هلته (پکهت) یا(پښت) کلمه په سر کې ده او دا د پښتون قام دڅلور نیم زره کاله وړاندې یاددی،چې ویدا آریایي سندرو موږته رارسولی دي او د پښتونخوا د مستوسیندونو، غرونواوخیلونونومونه لري، لکه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

برېساسا = برېڅ ، اپاريتي= اپريدي ، ورديکا = وردګ ، اسپزي = يوسفزي اونور پښتني خيلونه چې دهمدې وخت په سندرواواثاروکې يادشوي دي.
پاڼيي داباسين په غاړوهستيدلې ،پښتون ژبپوه چې ترميلاد400کاله وړاندې دپښتونخوادمردان په وړوکي لاهورکې وزيږيده اوترميلاد 350 کاله وړاندې دسنګرټ ګرامرد (اښت اډيالي) يااته ويناوې په نامه وليکه، هلته يې د (کپيشه)او (بلهيکه) ترمنځ د (روهيته ګيري) يعنې (دروه غر) يادکړی چې همدا افغانستان ،روه پښتونخوا يا دپښتنو د استوګنې ځمکه ترې مراد ده.
په همدې ترتيب دروه نوم هم د (لوهه) په بڼه تردې مخکې دهندوانو په مقدس کتاب (مهابهارت) کې ترميلاد 1200 کاله وړاندې هم راغلي دي،چې داسلامي دورې مؤرخ محمدقاسم فرشته د (روه)اوږدوالی له سوات او باجوړ څخه تر سيوي اوپلنوالی يې له حسن ابدال څخه ترکندهاره بللی دی.
د (ګرشپ) په وخت کې چې تاريخي پښتون پلار((غرغښت))لرغونی شکل دی سپين تمان=زردښت دلارښودی غړپورته کوي خلک ښې مننې، ښې وينې اوښې کړنې (پندار نيک، ،ګفتار نيک، کردار نيک) ته رابولي
اوهمداوخت دپښتون عنعوي کورنۍ (غرغښت،بيټنی اوسړبن) ژوندکوي چې تاريخ يې له ميلاد څخه يونيم کاله وړاندې زمانوته رسيږي.
دپارس ټولواکمن (ستردار يوش 522 تر 486ق م) چې له آريانا څخه ترمصره پورې يې واکمني درلوده ، په بهستان يابيستون کې ميخې ډبرليکونه کښلي دي چې دډيرو پوهانو په نظر پښتو دي.
د افغانستان د لرغوني تاريخ د پوهيدو لپاره يو بل معتبر ماخذ د (اوستا) سپيڅلی کتاب دی چې د زردشت يا سپين تمان په وسيله مينځ ته راغلی او تبليغ شوي دی . مورخين د دې اثر دتبليغ او حاکميت زمانه د 1200 پخوا تر ميلاد څخه بيا تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

700کاله پخوا تر میلاد کالونه په ګوته کوي ، دا زمانه د افغانستان په تاریخ کې د اوستايې تمدن تر عنوان لاندي مطالعه او څېړل کېږي .
دا مدنیت هم د ویدي مدنیت په څیر د اریائیانو له خوا منځته راوستل شو او وده یې ورکړل ، چې د پښتنو ونډه بیاهم رو ښانه وه .
د سپین تمان د نوم سر بیره یوشمیر نور نومونه هم په اوستا کې څو څو ځله راغلي چې ځني یې تر اوسه په خپل حال پاته دي او یو شمیر نومونه په لږ تغییر په اوسنۍ پښتو ژبه کې هم د پوهیدو وړ دي.
د پښتنو د تاریخي څرک لپاره د معتبرو ماخذونو په لړ کې تر اوستا یې متونو وروسته تر ټولو ډاډمن ماخذونه هغه لیکني دي چې د یوناني مورخینو په وسیله لیکل شوي او د منځنۍ اسیا په بیلا بیلو سیمو پوري اړه لري ، په دې برخه کې د بیلګي په توګه یوازي دیوناني نامتو مورخ هیرودوتس ( 425ق م مړ) هغه یادوني دي چې نوموړي د پښتون او د پښتنو د هیواد په اړه په خپلو اثارو کې په ډیر ځله ثبت کړي دي .
پر هیرودوتس سربیره یوشمیر نورو یوناني لیکوالانو او جغرافیه پوهانو لکه بطلیموس ، هیکتایوس او نوروهم د پښتنو په اړه په خپلو اثارو کې یادوني کړي دي .
د مقدوني سکندر سره د جګړو په مهال (د 330 څخه تر 326 ق م ) د پښتون قوم یادونه په واروار شوي ده ،
دلومړۍ میلادي پیړۍ په درشل کې د پښتنو یوي قبیلې چې سهاک(500 ق م (دسیستان او هلمند په حوزه کې او سېدل چې 600ق م د امو دسیند، فر غانې او دچیني تر کستان دسنکیانګ دحوزې نه یې په لېږد پیل وکړ او دسیستان سیمې ته یې ځا نونه ورسول چې وروسته دافغا نستان په نورو سېمو کې هم خواره شول).

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومیدل د یوي لویې واکمنۍ بنسټ کښیښود ، چې د افغانستان په تاریخ کې د کوشاني امپراتورۍ په نوم پیژندل شوې ده .

د همدي پاچاهانو په وخت کې د پښتو ژبې ګړنۍ یا دوییني برخي د وخت په لیکنو کې معمول ګرځول شوي دي ، د بیلګي په توګه د بغلان د سره کوتل په ډبر لیک کې د اوسنۍ پښتو ژبې ډیرې کلیمي لیکل شوي دي لکه : انند ( نندارہ ) ؛ وکېدو ( کېدل ) ؛ بګه ( بغي ) ؛او نور

د کوشاني امپراتورۍ ( 78ـ376م ) وروسته د پښتنو بله قبیله چې اپتالي یا ابدالي نومیدل ( 425 م ) د لویې امپراتورۍ په جوړولو بریالي شول . د اپتالي یا ابدالي پاچاهانو نومونه لا تر اوسه په پښتو ژبه کې کارول کېږي .

د اپتالي پاچاهانوځخه ورسته د عربي لیکوالو په اثارو کې د پښتون د نوم ځرک په زیاته پیمانه لیدل کېږي ، خو د دي نوم تر ځنګ د اپګان یا افغان نوم هم په ستر ګو کېږي چې تر ټولو پخوانې شکل یې په ساساني لیکنو کې لیدل کېږي چې تاریخ یې دریمې میلادي پیړۍ ته رسیږي .

دا نوم بیا د چینی لیکوالو او زیارت کونکو په وسیله ثبت شوي دي ، د بیلګي په توګه چیني نامتو زیارت کونکۍ هیونتسنګ۶۲۲م د پالانه د سیمو د لیدلو وروسته د یوه بل هیواد نوم اپوګان یاد کړي دی چې د شیرنکو په اند دا نوم د افغان پخوانی شکل دی .

بنایې د عرب لیکوال المسعودي(896 – 957م )په اثر کې یاده شوې د ابغان کلمه هم افغان وي که دا خبره سمه وخیژي بیا به المسعودي لومړې عربي لیکوال وي چې د افغان کلمه یې کارولې ده ؛ خو د حدود العالم من المشرق ا للمغرب لیکوال ۹۸۲م بیله شکه د افغان کلیمه او نوم په پوره وضاحت یاد کړي دی .

زابلي پاچاهان د پښتنو هغه غیر مسلمان وروستي پاچاهان وه چې د صفاریانو په وسیله د ماتي سره مخامخ شول ، له هغه وروسته بیا په 940 میلادي کالونو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانو پښتنو واکمني په پاشلې توګه د افغانستان په سهیل لویدیځو سیمو کې تاریخي اثارو ثبت کړي ده . له نیکمرغه د محمد هوتک پټه خزانه ؛ د سلیمان ماکو تذکره الاولیا ؛ د اخوند درویزه تذکره الا برار او زیات شمیر نور اثار په پوره تفصیل د بیټ نیکه او د هغه د ورونو په اړه په زړه پوري معلومات لري

د پښتنو په هکله په لومړي ځل یو زر کاله وړاندې د میلاد نه د لرغوني یونان تاریخپوه هېرودوتس وايي چې د پارس ختیځ لور ته د سر ترا پي آرکوزیا سیمه ده . ددې سره په ربګویدا هم د پکتاز په نامه د یو ولس یادونه کوي چې د پکت په سیمه کې اوسېږي او دا سیمه د افغانستان ختیځه سیمه یادوي.

ډېری خلک په دې باور دي چې همدا یادې شوې سیمې او ولسونه د پښتنو پخواني پلرني ځایونه او نیکونه دي. په نورو لرغونو خلکو کې چې د پښتنو سره یې تړاو لیدل کېږي، باختریان دي او داسې وییل کېږي چې باختریانو منځنۍ ایرانۍ ژبې ته ورته ژبه درلوده.

په تاریخي توګه پښتانه د افغانانو په نامه یاد شوي، او په همدې توګه د پښتون او افغان نومونه دوه هممانیزه نومونه دي او ډېرو نورو پوهانو د قوله د افغان کلمه په تاریخ کې لومړی ځل په حدود العالم کې په ۹۸۲ زېږدیز پېر کې راڅرګنده شوې.. همدا نوم د پښتنو لخوا د خپل لرغوني نیکه د نوم په یادولو کې چې افغانا نومېده کاریدلې ده .

دپښتنو د اصل او نسب په اړه د ډیر پخوا څخه بیلا بیل او ډول ډول نظریات څرګند شوي دي ، دا نظریات او رویات دومره زیات او یو له بل نه جلا او متفاوت دي چې معروف مستشرق او پښتو پیژندونکې (هنري راورټي) وایي :

( دهیڅ قوم د اصل او نسب په اړه د نظریاتو اختلاف دومره نه دي لکه دافغانانو داصل او نسب په باره کې چې دي ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو له دوه سوو کلو نوراهيشي د پښتو ژبي دريښي په اړه څه ناڅه پلټني شوي دي په دي لاره کې مستر ډورن ،ډار مستيټر،ګايګر، مورګين ستيرن ، بن و نيسټ ، راورتي او بليو ډيري پلټني کړي دي او پښتو ژبه يي اروپايانو ته ورپيژندلې ده .

1– يوچېني سياح (هيونتسنګ ٦٢٩ م)په غزنی ، کابل، باميان، بلخ کې دبودا مرکزونه په ګوته کوي او هم ايران اود غربي شيمو وګړي زردشتيان بولي .

2– لويو او کوچني کوشانيانو بيا يفتليانواو نورو په نوبت سره دلته پاچاهۍ وکړی ،ترڅو ديرش کاله د هجرت وروسته دغې شيمې ته د اسلام پاک دين راغي او تر ديرش کالو جګړو وروسته پښتانه خپله د اسلام ددين علم برداران شول .

4 جوزجاني (حدودالعالم المشرق الي المغرب ٣٧٢هـق –٩٨٢م)کتاب کې پښتانه ياد کړي او دوي يي دښارونو اوسيدونکې بللي دي.

5– علامه حبيبي د (ابن اثير 555 هجری) په حواله ليکي چې: د لرغوني مصر د تجارتي توکو له جملې څخه يو اساسي قلم د هرات منسوجات او اوبدل شوي او توليد شوي ټوکران ول . د نورو تجارتي توکو د يادولو تر څنګ د اسونو هغه تانګونه هم يادوي چي د بلخ په زندان کي د محبوسينو له خوا جوړيدل او بيا به د تجارتي متاع په توګه لويو بازارونو ته وړل کيدل .

6– تر ده وروسته ابو نصرمحمد(دسلطان محمود ددربار ليکوال) وايي چې پښتانه دسبکتګين په لښکرو کې وه که څه هم پښتنو د سلطان محمود غزنوي سره څه جګړې وکړې خو د هندوستان په نيولو کې يي بيا ورسره مرسته وکړه داځکه چې د سلطان محمود مور د زابل ولايت دپښتنوملکانوديوي کورنۍ څخه وه چې داخبري (ابن اثير630- 555 ق ) هم تعيدکړي دي .

7– فردوسي په شاهنامه کې اوغان(پښتانه ) په زړه ورتيا ستايي چې په زابل کې ددوي خان کک کوه زاد (غرزی) درستم سره دجګړې انځورونه کوي او وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چنین گفت دهـقان دانـش پـژوه | مر این داستان را ز پیشین گروه
که نـزدیک زابل بســه روزه راه | یکی کوه بود سر کشیده بمــاه
بیک سوی او دشت خـر گاه بـود | دگر دشت زی هنـدوان راه بود
نشسته درآن دشت بسیار کـوچ | زافغان و لاچیـن و کـرد و بـلوچ
یکی قلعـه بالای آن کـوه بــود | که آن حصن از مردم انبـوه بود
بـدژ دریکی بد کنش جای داشت | که در رزم با اژدهـا پـا داشت
نـژادش زافغان، سپاهــش هزار | همه ناوک انـداز و ژوبین گذار
به بالا بلـند و بـه پیکر ستـــبر | بحمله چو شیر و به پیکار ببر
ورا نـام بـودی کـــــک کُهزاد | به گیـتی بسی رزم بودش بیاد
درین گفت و گـو بود با کوهـــزاد | که آمد خروشی که ای بد نژاد!
چه دردژ گزیدی بدینســـان درنگ | که آمد همه نام اوغـان به ننگ
بدیدند کـک را چنان بسته دست | گروهی ز افغانیـان کـرده بست

او په یوه افسانه کښې څو بیتونه تر اوسه د خلکو په خولو کې پاتې دي کله چې د محمود غزنوي لښکر د سومنات د په لاس راوړلو په معرکه کې د فشار او کړاؤ سره مخامخ شو او محمود یوازې توب حس کړ په دې وخت کې یوه پښتون داسې وویل.

یو زه پښتون وم چې ولاړ وم د سلطان تر څنګه | ترکو نامردو دتښي ودانګل له نام و ننګه
له بت شکن سره په دژ د سومنات وختـم | توره په لاس په سره اور د عرفات وختـم

او تر دې راوورسته د پښتو ژبې کتبی لاس ته راغلي آثار او بیا د روښانیانو په اثارو او دخوشحال خان په اشعارو کې په کراتو مراتو د پښتون او افغان نوم راغلی دی .

لنډه داچې اوس په نړۍ کې د اتیا ملیونو شاوخواکې پښتانه ژوندکوي چې دقفقازدغروپه لمنو کې،آسټرلیا دشمالي ایرلنډپه ډبلین کې ،د امریکې په تیرافرماکې، دآسترلیا په هیواد کې، په اوسني افغانستان ،پاکستان او د اسلام دفتوحاتو په سلسله کې په هندوستان کې او داوسنیو دیرش څلوېښتو کالو مهاجرتونو په سلسله کې په ټوله نړۍ کې میشته شوي دي ،چې په افغانستان او هندوستان کې یې ستري واکمنۍ او امپراطورۍ جوړي کړي دي. دا چې پښتانه څوک دي راځئ پخوانۍ او اوسنۍ نظریې وپوښتو اوو ګورو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

A- ***پخوانۍ نظريې:***

چا پښتانه د خپلو عنعنو په روايت بني اسرايل او چا په مغلو ور ګډ کړي ، چا دارمنيانو، تاتارانو ، هپتاليانو او ساکانو په کتار کې درولي او په عين وخت کې له راجپوتانو ،برهمنيانو ،جټانو ،يونانيانو ، ترکانو ، عربانو او نوروسره ګډ کړي دي .

د پښتنو په هکله په لومړي ځل يو زر کاله وړاندې د ميلاد نه د لرغوني يونان تاريخپوه هېرودوتس وايي چې د پارس ختيځ لور ته د سرتراپي آرکوزيا سيمه ده او د دې ځای خلک پکتيانز دي، ددې سره په رېګويدا کې هم د پکتاز په نامه د يو ولس يادونه کوي چې د پکت په سيمه کې اوسېږي او دا سيمه د افغانستان ختيځه سيمه يادوي . ډېری خلک په دې باور دي چې همدا يادې شوې سيمې او ولسونه د پښتنو پخواني پلرني ځايونه او نيکونه دي .په نورو لرغونو خلکو کې چې د پښتنو سره يې تړاو ليدل کېږي، باختريان دي او داسې وييل کېږي چې باختريانو منځنۍ ايرانۍ ژبې ته ورته ژبه درلوده.

خو د پښتنو داصل او نسب په اړه تر ټولو عام او زوړ روايت هغه دي چې وايي پښتانه بني اسرايل دي .

دا خبره تر ټولو پخوا د(( ابوالفضل ۱۵۹۷ )) کړې ده ٠

دی وايي (( پښتانه په دي ګروهه دي چې (افغان) نومي دري زامن درلودل چې هغوي سړبن ، غرغښت ، او بټن نوميدل او د وي بيا ستري کورنۍ جوړي کړي چې سلسله يي همدغو دروتنوته رسيږي .

آخوند درويزه هم وايي :افغانان دمهتر يعقوب اولاده ده خو ځر نګه چې افغانان د سليمان په غره کې اوسيدل نو په عربو کې سليماني بلل کيږي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعمت الله هروي نورزي [ ۱۶۱۳ ] په مخزن افغاني کې په تفصيل سره دپښتنو داسرايلي والي داستان راوړي او هغه داشي چې :
داچې څنګه قيس عبراني پيغمبر (ص ) ته وروستل شو او رسول الله قيس ته د عبدالرشيد نوم ورکړ، دده د مړاني په اساس يي بتان ((پټان)) [ دبيړي د تکې لرګی ]اوباله ، دنوموړي دري زامن پاته شول چې سړبن ، بيټنی او غرغښت وه .چې د ټولو پښتني قومونو سلسله او نصب دغو درو ورونو ته رشيږي .
تر نعمت الله هروي ورسته نورو مؤرخينو لکه افضل خان خټک ، حافظ رحمت خان ، زردار خان ، او حتي قاضي عطاوالله خان پښتانه بني اسرايل بللي دي .
اوددغو رواياتو له مخي بيا نورو ډېرو افغاني اوغيرافغاني مستشرقينو دپښتنو اوپښتو داصل اوريښې مسئلې ته پام واوښت . ځينوته دپښتنودبني اسراييليت نظرسم ښکاره سو اوځينوته بيا داتيوري يوه غيرمستنده اوبې بنياده نظريه وايسېدله او پښتانه يې اريايان وبلل .
سرويليام جونز ،الکساندر برنس، ويليام مورکرافټ ، چارلس مېسن ، جورج هنري روز ، والټر بيليو، اوهنري جورج راورټي دپښتنودبني اسراييليت دتيورۍ پلويان اوپه مقابل کي بيا منسټوارټ الفنسټن ، جان مالکم ،برنارډ ډورن او ډارمستتر دپښتنو دارياييت ملاتړي شول
خوځينو نورو بيا پښتانه برهمنيان ، راجپوتيان ،جټان ،يونانيان، هفتاليان ، ساکان ، مغلان ، ترکان ،ارمنيان ، عربان څه اوڅه ګڼلي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

***B– وروستنی نظریې :***

هسې خو انسانان ټول د یو آدم اولاد ګڼل کیږي او په حقوقي ډول دوی ټول یو برابر دي – ولې د جوړښت ، یعني د ونې ، رنګ او جولې په لحاظ یو انسان د بل انسان یا د انسانانو یوه ټولنه د بلې ټولنې سره یو څه توپیر او بیلتون لري ؟ یو ډول صفات لکه ونه او رنګ لرونکې ټولنه په عمومي ډول یو نسل بلل کیږي .

د انساني تاریخ پوهانو او عالمانو ددې په بشپړه ډول بیلتون او درجه بندي کړې ده – په نړۍ کې سپین پوستي ، تور پوستي ، زیړ پوستي او دغه ډول نور ډیر نسلونه وجود لري . د پښتنو شمیر په سپین پوسته نسلونو کې راځي ، بشري عالمانو سپین پوستي په آریایي او سامي دوه نسلي څانګو کې ویشلي دي .

پښتانه د افغانستان د نوي تاریخ مرکزی برخه ده چې ددې هېواد په جوړولو کې یې اړین رول لوبولی دی

پښتانه په پښتو ژبه خبرې کوي، پښتو ژبه د هندواروپایي ژبو د کورنۍ څخه یوه ژبه ده او په هندواروپایي کورنۍ کې د هندوایراني ژبو د ډلې څخه شمېرل کېږي

پوهانو او دنظر خاوندانو دنړۍ وګړي په درې عمده او لویو نژادونو ویشلي دي

***الف –آریایي یاقفقازي نژاد .***

***ب – مغولي نژاد.***

***ج –سامي نژاد ۰***

آریایان ترخپریدلوډیر دمخه په یوه ځاي کې اوسیدل چې دو ي آریانا ویجو [دآریانامځکه] یا د اصیلانو او پاکانو هیواد باله .

وایي چې ددوي دهیواد هوا خورا ښه وه مځکې یې اباتي وي چې دا آریانا ویجه دعلماوو دنظر په اختلاف سره دتورسمندرګي غاړي وي او ځیني یي لا د جیهون سیند سرچېنې بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داوستا څخه په نقل قول دغه مځکه یو په یوه سره یا په بل نظر د ورشوګانودلغړیدو او دتاتاري قبایلو دحملو په وجه دقفقازاوبیا زاړه بلخ ته رامهاجر شول چې 5000 ق م یې تخمین دي ،دوي زموږ د هیواد شمالي خوا راغلل تر آمو راواوښتل او په باختر کې یې یوښکلی مدنیت جوړکې چې دلته نو ددغو آریایانو لیږد په درې [باختري ،ایراني اوهندي] برخو ویشلای شو .

## اریایی پخووانی مرکزونه

### *۱ – مرکزي [باختري ]اریایان :*

دلرغونپوهانو په عقیده، لومړني اریایان داریاناویجو(ه) یعني دامو دسیند په غاړو میشت وو چه د دوي د تمدن لومړنۍ ځاي دې د اباسین تر څنډو پوري خپاره شول. کله چه ددوي شمیر زیاتیده دغذا او دژوند د نورو وسایلو د پیداکولو په هیله نورو سیمو لکه فارس، هند او نورو اروپایي هیوادو نو ته خپاره شول.

د اریایانو د ژبو تاریخ ۲۵۰۰ ق م څخه بیا تر ۳۰۰۰ ق م پوري رسیږي. ویدا د اریایانو لمړنې دیني کتاب دي چه په اریایي ژبه لیکل شویدي. په ۱۴۰۰ ق م اریایي ژبي پخپلو کي سره وویشل شوي، کوم اریایان چی پارس یا د اوسني ایران خواته کډوال شول د هغوي ژبه فرس یا اوسنې پاړسی شوه، او هغه اریایان چې په بخدي یا بخد کي پاتي شول یا اوسیدل دهغوي ژبه پښتو شوه

هیري دوت په ۵۲۰ق م کي هم د پکهت او پاکتویس د کتابونو نومونه پخپل تاریخ کي یاد کړي دي. نو په ترتیب ویلاي شو او دا نتیجه ګیري کولاي شو چه پښتانه لومړني اریایان دي چه په بخد یا بخدي کي اوسیدل .

*دوي د هندوکش د دواړو خواونه داستوګني* ورسته زموږ د هیواد په دښتو اوغرونو کې سره خپاره شول چې ددوی هیواد دآمو نه نیولي بیا تراباسین اوخراسان پوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مهمي برخي يې بلخ ، تخارستان ، هرات ، اراکوزيا ، کابل ، ګندهارا، سيستان ،خراسان چې د عرب تر سمندرګي پوري غځيدلي وې.

**۲- لويديز آريايان :**

دا ډله آريايان له بلخه جنوب لوديز خوا ته د هريوا (هرات) پر خواله خراسانه تير او دپارس خواوي يې ونيولې او اوسنی ايران يې جوړ کړ چې دا مهاجرت د ۱۴۰۰ق م نه پيل او تر ۸۰۰ق م يې دوام درلود چې لومړنی دولت يې ((ماد يا ميدي ۷ق م )) په نامه وو.

ددوي پيغمبر زردشت دپوروشاسپه زوی ؤ، دده کتاب[اوستا] نوميده او د(مقدوني سکندر۳۲۷ق م مړينه) لخوا دده دکتاب چې د ۱۲۰۰غوايانوپر پوستکو ليکل شوي ؤ ډيره برخه وسوځول شول او هغه دريمه پاته برخه (۸۳۰۰۰کلمات) يي [ ګاتها] نوميږي (ارباب الانواع يي اصلي موضوع ده چې ورسته يي په پرښتو بدله کړله ) پاته ده .

ددي کتاب ژبه اوستايي او لور يې زړه پاړسي او دداريوش ډبر ليکونه دي چې دزړي پاړسي لور بيا پهلوي نوميده .

**۳- دريمه ډله يادختيځ آريايان :**

چې دباختر او هندوکش له شاوخوا څخه دکابل ،خيبر او او نورو لارو په [سپتا سندو]((داوودريابونو مځکه )) يا[بهاراته ورشه ،بهاراته ورته ]اوسني هندکې سره خپاره شول ، دوي تر اباسين تير او دا باسين او ګنګا په منځ کې يي يو ځلاند مدنيت جوړکړ او دهند په ځګلونو او بنو کې ودان شول دا ليږديدنه د ۱۴ق م نه پيل شوه ددوي ژبه سنسګرټ شوه چې دويدا کتاب هم په همدي ژبه دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کې شک نشته چې بخدي آریایان ۱۴۰۰ ق م مانا هغه وخت چې دهندي آریایانو ديني کتاب ویدا لیکل کېده د پکهت په نامه مشهور وه او پخپله په ریګودا کې هم ددوي نوم ذکردي او دغه ملت په خپل عضمت موجود ؤ .

دا چې آریایانوپه (بالهیکا بخدي ، بلخ) کې ښکلي مدنیت درلودلی او خپل هیوادېې [اریاناورشه]((داصیلانواوښاغلو هیواد)) باله چې ددي لوي مدنیت مرکزبه د رونې، روښانه ،ښکلي په صفاتوستایل کېده لکه بلخ بامي چې دا نوم د ((منوسمهیتا)) په کتاب [۲فصله او۲۲شعره] دی راغلی چې مانویا منو داریایانو پلار ګنل شوی او اریایان منوزي هم بولي او د[منولیار]په نامه قوانین هم لري .

له دغو تاریخي ملاحظاتو څخه موږ دي نتیجي ته رسیږو چې پښتانه آریایان لومړي په بخدي کې اوسیدل له هغه لومړني ټاټوبي څخه دوي دهغه ځاي په نامه [پخت،پکهت]د خپلي زړې ژبي سره د ۱۴۰۰تر ۱۰۰۰ ق م پوري داباسین غاړو او دهیواد شرقي غروته ولاړل اوپه همدغه نامه او ژبه مشهور دي .

هیرودوتس(دتاریخ پلار425) پر دي ټینګار کړي دي چې دداریوش دلښکرو څخه دهغه څلویښتمه فرقه پښتانه وه نوموړي پښتانه په زړه ورتیا ستایلي دي او دوي یي ددري صفاتو خوندان بللي دي :

۱ : پښتانه عموماً پوستینچې اغوندي .

۲ : دا خلګ ږیري په نګریزو رنګوي .

۳ : دوي په غشو ویشتلو کې سخت مهارت لري، ماته او شکست ددوي په آئین کې نشته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر صورت پښتانه د تاريخ په اوږدو کې په زړه ورتيا ، پاکې ، صداقت، میلمه پالني ،ننبه ويشتلو ، خپلواکې غوښتلي ، پر خبره ولاړ ، دښو او ټينګو قوانینو درلودونکو ، په صفاتو ستايل شوي د ي .

. بلاخره غربي مؤلف برنارډ ډورن دپښتنو په اړه دلومړي ځل لپاره پراخ ،دقيقه او اصولي څيړنه وکړه ،نوموړي په منطقي دلايلو دا ثابته کړه چې پښتانه نه يهود ، نه بني اسرايل ،نه ارمنيان او نه ګرجيان دی ٠

پښتانه د هندواروپائي ولسونو دستري کورنۍ غړي بولي خو په عين وخت کې پښتانه ځان يو لرغونی اولس ګڼي .نوموړی وايي چې افغانان د هغي ستري کورنۍ غړي دي چې جرمنيان ،هنديان سلوانيان او يونانيان ورپوري اړوند دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په آریايي ژبو کې د پښتو ژبې موقیعت

اریک ژبه، چې کله کله د آري او آریايي په نوم هم یادېږي، د اندو اروپايي ژبو د کورنۍ مهمه ختیځه څانګه ده. د هغه قومونو په خلکو کې رواج وه، چې ډېر پخوا د ق م درېیمې زریزې ترمنځ هغه مهال، چې د دوی قبیلې یو له بله سره نه وې جلا شوې، د مرکزي اسیا په دښتو کې سره خپاره شوي وو. دې قبایلو کوچیانی ژوند درلوده او په کېږدیو کې اوسېدل، خو دوی د واحد حکومت درلودونکي وو، هم یې د قبایلو مشر او هم یې مذهبي پېشوا درلوده. دې اقوامو د یوې ژبې دوه لهجې درلودې، د لهجو اختلاف، د مهاجرت او لېږد وروسته زیات شو، خو بېلتون او جلاوالی پکې رانغی.
دواړو یوځای مېشت قومونو، چې خپلو ځانونو ته یې آري یا آریايي او خپلې ژبې ته یې آریک یا آري ویله، داسې ښکاري چې د ق م د درېمې زریزې په نیمايي کې د همژبۍ او آریايي اتحاد سره سره دغه دواړه لهجې، چې وروسته یې په اندو آریايي او اریاني تحول وکړ، په هماغه اریايي مېشته سیمه کې غوړېدلې دي.
د اریایانو د لېږد او مهاجرت وروسته د اندو اریايي ویونکي د )ویدا )قبیله وه، چې په پای کې د هند د قارې په شمال کې مېشت شوه او اریايي څانګه لومړی د آرال بحیرې جنوب ته او له هغه ځایه د سر دریا او امو سیند سیمو ته راغله .ښايي د آمو دواړو خواوو ته به یې هم هجرت کړی وي او هلته به اوسېدلي وي. په دغه سیمه یې آریاناویجه Airyana Vaejah نوم کېښود، چې د اریایانو د ټاټوبي او استوګنځي مانا یې درلوده. بیا یې جنوب لور ته مخه کړه او باختر ته له تېرېدو وروسته په ټول نني افغانستان او د هغې د باندې خپاره شول.
اریاني څانګې د منځنۍ اسیا ځایي اوسېدونکي کرار کرار په خپل ځان کې راجذب او خپله ټولنه یې لا ګڼه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه سیمه، چې دوی پکې خپاره شوي وو، د منځنۍ اسیا لویدیځې برخې او ننني افغانستان و، چې د اریایانو د هېواد Aryanam dahyu او آریایي ټاټوبي په نوم یې ونوموله.

د اریک د ژبې هېڅ لیکلی سند په لاس کې نه شته، د هغې د پېژندلو لپاره د اسمي او فعلي ریښې او مهمو کلماتو د بیارغونې Reconstruction پرته بله لار نه شته، چې د ژبپوهنې، مانا پوهنې او غږ پوهنې د قواعدو له مخې لرغونې ژبې له هغې څخه راوتلي او لیکل شوي دي او لږ تر لږه یوه نښه یې راپاتې ده. د ژبپوهانو د څېړنو له مخې د اندو اروپایي( Indo_European) غږونه په اریک ژبه کې د آندو آریایي، آریاني او نورستاني ژبو د غږو پر بنسټ په لاندې توګه تثبیت کېدای شي:

د آریایانو او د هندو آریایانو له جلا والي څخه څو پېړۍ وروسته دوی له ځانه مهم اسناد لکه ګاتا ( Gata)او ریګویدا ( Regveda)یادګار پرېښي دي، چې د آریک د ژبې له اصلي هستې څخه یې تکامل او تحول کړی دی: داروپا او آسیا اکثر ژبي ذاتي خپلوي او اړیکې لري چې ددغو خپلویو او اړیکو شواهد دژبو په ټولو اړخونو کې لیدل کېدای شي چې تر ټولو څرګند یې دویونو [کلمو ] ترمنځ ورته والی دي په تیره بیا په هغه کلمو کې لکه لومړني عداد [۴،۳،۲،۱،ترلسو] ، کورنیو اړیکو [ مور ،پلار ، خور ، ورور...] ، په کور نی حیواناتو کې [آس ،غوا، پسه...] او ځینی نورو عمومي شیانو کې لیدل کېږي .

بل ورته والي ددغوژبوپه ګرامر کې معلومیږي او داړوندو ژبو اړیکې ښه څرګندوي ،دساري په توګه په فونولوژیکې سیستم کې دکلیمې دسر [ دال d ]کې د لاتیني ، یوناني ، سلاوي ،او سانسکرت ژبو په هم مانا کلمو کې ګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| مانا | سانسکرټ | سلاوي | یوناني | لاتیني |
|---|---|---|---|---|
| دوه | dv*a* | duv*a* | duo | duo |
| لس | d*asa* | deseti | deke | decem |

یوه نیمه پیړۍ دمخه دغه ډول شواهد دژبپوهانو لاس ته ورغلل او دهغو په رڼاکې یې دنړۍ دژبو یوه لویه کورنۍ کشف کړه او دلومړ ی ځل لپاره په 1783میلادي کال کې سرویلم جونز د لاتیني یوناني او سانسکرټ ګډه منشه اعلان کړه چې نن د [ هندو اروپایي ژبوکورنۍ بلل کیږي ، دغه کورنۍ لس مهمې څانګې لري چې دهغو[هندو اروپایي]څخه یوه ډیره مشهوره ژبه یې زموږ ژبه پښتو ده.

دادي ددغي څانګي نور غړي د پښتوسره یو ځاي درپیژنو، په دي څانګه کې هغه یو شمیریو له بل سره خپلواني اوخپلواکې ژبي شاملي دي چې دبنګال څخه بیا ترفارس خلیجه او دهند سمندرڅخه بیا تر منځني اشیا تر پلنو دښتو پوري ویل کیږي.

هندو اروپایي ژبي پر دوو ډلو ویشل کیږي.

1= هندي ژبې.

2=آریاني ژبې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آريايي ختيزې ژبې

## 1 – هندي ډله (آريايي ژبې)

### الف – پخوانۍ دوره :

ددې ډلې په لرغوني دوره کې يوه ډېره مشهوره ، پراخه او مهمه ژبه دسانسکرټ په نامه يادېده چې ډېر لرغوني مذهبي متون دي او د (م ز) تر لسمي پيړۍ دمخه ويل شوي دي ځني نور کتابونه لکه (مهابهارت) او (رامايڼ) ورسته ليکل شوي دي چې د کلاسيک سانسکرټ په نامه يادېږي .
او ويدی سانيکرټ هم کله چې د اټک سيند د غاړي اوسيدونکې او ستر عالم (پاڼيڼي) م ز څلورمه پيړۍ کې دسانسکرټ ګرامر وليکه تر هغه ورسته سر بيره پر مذهب پر نورو خواوو کې هم کتابونه وليکل شول

### ب – منځنۍ دوره :

دخلکو تلفظ ورو ورو له کلاسيک سانسکرت څخه تغير وموند حتي په دريمه م ز پيړۍ کې د آشوکا په ډبر ليکنو کې چې په هند او هم افغانستان کې پيدا شوي دي دبيلو بيلو ګړدودنو پرمختګ څرګندونه کوي چې بيا دغو لهجو کرار کرار د ځانګړو ژبو بڼه غوره کړه چې د( پراګريتونو) په نامه بلل شوي دي .
پراګريتونه او پالي ژبه د هندي ژبو منځنۍ دوره جوړوي ،پالي ژبه دم ز لومړي پيړي دمخه په سريلانکا کې د بودائي دين د متنونو ژبه وه .

### ج –اوسنۍ دوره :

په اوسنۍ دوره کې تقريبا ۞ سل لوي او وړي ژبي شته چې د فونولوژيکې او مورفولوژيکې مشخصاتو له مخي داسي ډلبندي شوي دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

***1= شمال لویدیزه ډلګۍ:***

ددغې ډلګۍ چې ډیرې لرغونې نښې یې ساتلې دي (دسانسګرټ څخه دمخه دآریایي څخه جلاشوې دي).

اکثره یې د هند د نیمې وچې د باندې ویل کیږي او په څو برخو ویشل کیږي .

***A*** – د نورستان دژبو څانګه لکه : ویکني او کټي ۰۰۰

***B*** – د نورستان دشاوخواژبو څانګې لکه : پشه یي ، تیراهي، داملي ، کلشه یي، ګوارپتي ، کهوړو(چترایي)

***C*** – په داردې ګروپ کې کشمیري ، کوهستاني ، څګاني ( دجتانو ژبه چې په انګلسي یې جشپې بولي او په روسي او آلماني کې یې څګان او شکان لیکې) ۰۰۰

***2= لودیزه ډلګۍ:***

**ددې ډلګلې یومهم غړی (لهندا) دی ،د لهندا یوه مشهوره لهجه د هندکو له پښتو سره ګاونډی ده او په افغانستان کې هم ویل کیږي ددې ډلګې نور غړي لکه: سندهي ، ملتاني ، ګجراتي ، راجستاني او مرهټي دي ۰**

***3– مرکزي ډلګۍ***

**پنجابي، پهاړي ،لویدیزه هندي، ختیځه هندي ،اواوردو ددې ډلګې غړي دي .**

***4– ختیځه ډلګۍ :***

په دې ډلګۍ کې بنګالي،اسامي، بیهاري،اوړیااوسینګالي،سینهایي ( دسیلون ژبه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

[[دژبو دکورنیو اوځانګو نومونه زیاتره دجغرافیایي سیمې له مخي ایښودل کېږي .]]

**دهندي ډلې دخط ډولونه :**

هندي ژبي په دوه ډوله خط لیکل شوي دي .

I –(برهمني لیک)– چې له کېڼي نه ښي ته لیکل کېږي او د هند په هره سیمه کې جلاجلا طرز لري . دیواناګري یومشهور مروج لیک دي چې اوسنۍ هندي ژبه پري لیکل شوي ده

II –(خروشتي )–داهندوستان په شمال او اوفغانستان کې استعمالیده ،اساس یي له آرامي لیک څخه دي او له ښي نه کېڼ ته لیکل کېږي او د برهمني تاثیر پکې ځرګنددي او اوس نه استعمالیږي خو په لرغونو آثارو کې موجود دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 2–آریانی ډله (آریایی ژبې)

### *الف :لرغونې دوره*

ددغې ډلې لرغونې دوره کې دوې مشهورې ژبې پېژنو اوستا او زړه پارسي ۰
***اوستا*** = دزردشتي دین دمذهبي متونو ژبه ده چې ډېر پخوانۍ دې خو هغه وخت لیکل شوې دې چې دساسانیانو په زمانه کې دردشتي دین رسمي او دولتي حیثیت پیداکړ. ددغومتونو دوې برخې له منځه تللې یوازې یوه دریمه برخه یې لاس ته راغلې،د اوستاډېره زړه برخه [ګاتها] ده .
***زړه پارسي*** دهغولیکنو ژبه ده چې د هخامنشي پاچاهانو په تیره بیادداریوش یاداښتونه دي او په میخي خط لیکل شوې دي.

### *ب : منځنۍ دوره*

د آریاې ژبو منځنۍ دوره له لومړۍ میلادي پیړیې څخه پیلیږي .
ددغې دورې ژبې په دووډلګیو ویشل کیږي : [لویدیځه ډلګې او ختیزه ډلګې]

### 28– لویدیځې ډلګې :

A– **پهلوي** : د ساساني امپراتورۍ (۶۵۲–۲۲۶ م ) رسمي او دیني ژبه وه چې یو شمیر دیني او غیر دیني متنونه یې په لاس راغلي دي .
B-**منځنۍ پارسي** : داژبه له زړې پارسي څخه راوتلې ده په ساساني دوره کې ځینې ډبرلیکونه او هم د زردشتي دین ځیني متنونه په دې ژبه لیکل شوي او پیداشوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**29- ختيځه ډلگۍ**

A – **سغدي :** لرغوني سغد د سمر قند او بخارا ژبه وه او يولړ متنونه يي چې له څلور نه تر اتمي ميلادي پيړي پوري ليکل شوي لاس ته راغلي دي .

B- **ختني (ساکې):** دا دهغو منتونو ژبه ده چې له اتمي نه بيا تر لسمي ميلادي پيړي پوري ليکل شوي دي او د چين په ختن کې پيراشوي دي دامتنونه په براهمني ليک کښل شوي دي ، پر ژبه باندي يي د پراگريتونو تاءثير څرگند برينښي .

C- **باختري :** دا دهغوليکنو ژبه ده چې د بغلان د ولايت په سره کوتل د کنشکا په معبدکې پيدا شوي دي،ددغه خط يو لوي ډبر ليک په يوناني رسم الخط دي اودکابل په موزيم کې ساتل شوي و ،ډبر ليک ژبي له لوستلونه ورسته پوهانو باختري ژبه بللي ده چې ديوي ختيځې آرياني ژبي ځانگيړ ني پکې څرگندي دي او پښتو ته ډيره نژدي ده.

D- **خوارزمي :** ددي ژبي نوم په تاريخ کې راغلي دي خو له متنونو څخه يي يوازي يو څو جملي او کليمي په عربي ليکدود او اسلامي فقي په کتابونو کې پيداشوي دي او دا ژبه سغدي ته ډيره نژدي ده.

***ج :اوسنۍ دوره***

**29- جنوب لوديځه ډلگۍ :**

ددغي ډلگي تر ټولو لويه اومهمه ژبه پاړسي ده چې دري لوي لهجي لري لکه : دري (افغانستان) ، فارسي (ايران) ،تاجکي (تاجکستان) اويوه لهجه بله ده چې په آزربايجان کې ويل کيږي په نامه د (تاتي) .

**29 -شمال لويديځه ډلگۍ :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

A –*بلوڅي* : داژبه که څه هم په هغوشیموکې ویل کېږي چې د لرغوني اریانا جنوبي شیمه بلل کېږي خو د ژبنیو مشخصاتو لمخي په شمال لویدیځي ډلګي کې ګڼل کېږي ، تاریخي شواهد هم دا څدګندوي چې بلوڅان د خپل اصلي ټاټوبي شمال لویدیځ څخه خپل اوسني ټاټوبي جنوب لویدیځ ته کوچېدلي دي .

***B–کردي*** : ددي ژبي ویونکې د ترکېې ، عراق ، ایران او سوریې ،په څیرمه سرحدي شیمو کې میشته دي .

ددغي ډلګي نوري ژبي لکه سمنایي،سوندي، خوري، زازا او ګوراني دي.

**30 – شمال ختیځه ډلګۍ :**

A– **پښتو :** ددې ډلګي تر ټولو لویه او مهمه ژبه پښتو ده .

B– **پاميري:** د آریاني ژبو دشمال ختیځي ډلګۍ بله څانګه د پامیري ژبو په نامه یادیږي چې دا هغه یوشمیر وړې ژبي دي چې د بدخشان په دروکې پولي په دواړو خواوو کې ویل کېږي لکه: شغني ، اشکاشمي ، واخي، یزغلامي او منجي ***، اسي یا اویستي.***

**30 – جنوب ختیځه ډلګۍ :**

(جنوب خترزه ډلګۍ : دوي مهمي ژبي لري ) :

A- ***اورمړي*** : دوزیرستان په کاڼي ګروم او د لوګر په ځینوکلوکې ویل کېږي

B- ***پراچې*** : دکاپیساولایت د پچغان او عچلان په درو او دپروان په شتل کې ویل کېږي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**